# د حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام

# واقعات

**30-May-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 30 مئي کال 2024ء (21 ذيقعده، 1445ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام واقعات

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د 7 چيلو والا کوهے
- ...د سجدې کولو دوه بهترين ځايونه
- ... مَړو ته اواز کول ښنګ دي...؟
- ... د ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام پيغام زمونږ د غلامانو پهٔ نوم

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې پهٔ شپه او د جُمعې پهٔ ورځ (یعني د زیارت د ورځ د نـمر پریوتو نه تر د جُمعې د ورځ تر نـمر پریوتو پورې) پهٔ ما باندې د دُرُودِ پاک کثرت کوئ! ځوک چې داسې کوي د قیامت پهٔ ورځ به زهٔ د هغهٔ ګواهي ورکووم او شفاعت به یې هم کووم.

| | |
|---|---|
| تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چِٹھی ملی ہے |
| شفاعت کرے حشر میں جو رضاؔ کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے (1) |

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! خواهش مې دا دے چې کله د قیامت پهٔ ورځ حاضر یم نو تاسو ووفرمایئ چې: اے رضاؔ! ستا د پاره د دوزخ نه د ازادۍ دا چیټۍ میلاؤ شوې ده. اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ



[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:188 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

وسلّم ! د رضا شفاعت کول هم ستاسو کار دے، ستاسو نه علاوه هيچا له دا طاقت نه دے ورکړے شوے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے. (2)

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پۀ اَدب به کښينم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د 7 چيلو والا کوهے

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! بِئْرِسَبَع يو تاريخي ښار دے. د فلسطين سره نزدې دے. اوس دا ډير غټ ښار جوړ شوے دے، پخوا دا يو وړوکے شان کلے وو، پۀ عربئ کښې بِئْر کوهي ته وائي او د سَبَع معنٰى ده 7، (يعني د شميرې والا 7 کوم چې د 6 نه پس راځي). دې ځائے ته بِئْرِسَبَع ولې وئيلے



2...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

شي؟ پۀ دې باره کښې مختلف روايتونه دي. د دې يو سبب دا دے چې کله د الله پاک د نبي حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وور ته د اچولو واقعه راپيښه شوه، وور د هغوئي د پاره ګلزار جوړ شو، د دې واقعې نه پس هغوئي د خپلې علاقې بابِل نه هجرت وکړو او پۀ مِصر راتير شو او هُغه ځائے ته ورسيدو کوم ته چې اوس **بِئْرِسَبَع** وئيلے شي. هُغه وخت حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د ځوانئ پۀ عُمر کښې وو. هلته الله پاک هغوئي ته ډير زيات مال عطا کړو، د هغوئي سره څاروي (غواګانې، ميښې، چيلۍ وغيره) ډيرې زياتې شوې. د هُغه ځائے خلقو به هغوئي ته **شَيخ صالِح (يعنې نيک بزرګ)** وئيلو. بيا داسې وشول چې د هُغه ځائے خلقو د هغوئي بے ادبي وکړه او اوئې وئيل چې تاسو د دې ځائے نه لاړ شئ! حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خپل سامان او ټول مال او څاروي وغيره د ځان سره کړل او د **حِبرُون** (نومې ښار کوم ته چې اوس **اَلخَلِيل** وئيلے شي، هلته يې) تشريف يوړلو.

حقيقت دا دے چې د انبيائے کرامو عليهِم السَّلام بے اَدبي که ځخپله دا حضرات معاف هم کړي خو الله پاک بے ادبو له سزا ضرور ورکوي. د **بِئْرِ سَبَع** خلقو له هم سزا ورکړے شوه، واقعه څۀ داسې ده چې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د تللو نه پس چې کله دې خلقو خپلې چيلۍ د کوهيانو خوا له بوتللې نو څۀ ګوري چې ټول کوهيان وچ پراته دي، پۀ هغې کښې يو څاڅکے اوبه هم نشته. ډير پريشانه شول. هغوئي پوهه شول چې مونږ د **شَيخ صَالِح** يعنې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام کومه بے ادبي کړې ده دا د هغې سزا ده. نو دا خلق د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خدمت کښې حاضر شول، د

خپلې بے ادبۍ معافي يـې وغوښتله او عرض يـې وکړو چې حضور! تاسو واپس تشريف راوړئ! حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام ووفرمائيل: زۀ اوس واپس خو نه درځم، البته! تاسو زما 7 چيلۍ بوځئ! يوه يوه چيلۍ د يو يو کوهي سره ودروئ، پۀ کوهيانو کښې به اوبه راشي.

بيا دې خلقو 7 برکتي چيلۍ بوتلې او واپس لاړل، څنګه چې هغوئي چيلۍ د کوهيانو خوا کښې ودرولې، هم هُغه وخت پۀ کوهيانو کښې اوبه راپورته شوې او پۀ لږ سعت کښې کوهيان د اوبو نه ډک شول.

پۀ دې وجه د دغه ځائے نوم **بِئْرِسَبَع (يعني د اووه 7 چيلو کوهے)** مشهور شو. (الانس الجليل، جلد:1، صفحه:110)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د تبرکاتو برکتونه

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** څومره ښکلے شان دے د حضرت ابراهيم خليلُ الله عَلَیْہِ السَّلَام...!! د هغوئي د چيلو پۀ برکت پۀ کوهيانو کښې اوبه راغلې...!! واه سُبْحٰنَ الله!

پۀ دې غور وکړئ چې د انبيائے کرامو، اوليائے کرامو، د **الله** پاک د قرب لرونکو بندګانو پۀ تبرکاتو کښې څومره طاقت وي. ❀ د دې تبرکاتو سره مشکلات ختميږي ❀ پريشانۍ حل کيږي ❀ زړونو ته سکون حاصليږي ❀ بيمارۍ لرې کيږي ❀ د **الله** پاک د عذابونو نه پناه نصيب کيږي ❀ د دې تبرکاتو پۀ تعظيم سره پۀ زړونو کښې تقوىٰ پيدا کيږي ❀ او د

دې تبركاتو پهٔ بركت سره ايمان تازه كيږي.

## د مقامِ ابراهيم د مُصلّٰی جوړولو حكم

خاص طور د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره د نسبت لرونكو څيزونو، د هغوئي د تبركاتو...!! د دې د تعظيم خو پهٔ قرآنِ كريم كښې باقاعده حكم وركړے شوے دے. ارشاد كيږي:

| | |
|---|---|
| وَاتَّخِذُوۡا مِنۡ مَّقَامِ اِبۡرٰهٖمَ مُصَلًّی ؕ (پاره:1، البقره:125) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُالعِرفان: او (اے مسلمانانو!) تاسو د ابراهيم د اودريدلو ځائے د لمانځهٔ مقام جوړ كړئ. |

مقامِ ابراهيم څهٔ دے؟ يو كاڼے دے، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې كله كعبه شريفه جوړوله، چې كله د كعبې شريفې ديوالونه اوچت شول نو هغوئي پهٔ دغه كاڼي باندې ودريدلو، دا د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام معجزه وه چې څنګه به ديوالونه اوچتيدل نو دا كاڼے به پخپله بره كيدو، بيا به چې كله حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام لاندې راكوزيدل غوښتل نو [هغه كاڼے به] ښكته كيدلو. دا كاڼے هم بے مثاله دے، دې كاڼي د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو مباركو نخښې د ځان د پاسه محفوظه كړې دي، د دومره صدو تيريدو باوجود اوس هم د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو مباركو نخښې پهٔ دې باندې موجودې دي.

## د سجدې كولو دوه بهترين ځايونه

الله پاک د دې مبارک كاڼي د مُصلّٰے جوړولو حكم وكړو. څهٔ مطلب

دے؟ یعني د کعبې مخې ته په داسې ځائے کښې ودرېږئ او نـمونځ کوئ چې مقامِ ابراهیم ستاسو او د کعبې بالکل په مینځ کښې راشي. د طواف چې کوم نفلونه وي، هغه په دې ځائے کښې د ودریدو سره ادا کول مُستحب دي. حضرت عبدُ الله بن عَمرو بن عاص رضی اللہ عنہ فرمائي:

خَيْرُ الْمَسَاجِدِ خَلْفَ الْمَقَامِ وَعَنْ يَمِيْنِ الْإِمَامِ

یعني په ټوله زمکه باندې د سجدې کولو د پاره دوه ځایونه بهترین دي: **(1)**: د مقامِ ابراهیم شاته، [او] **(2)**: (چې کله مونږ د جمعې سره نـمونځ کوو نو) د امام ښي اړخ ته.[3]

## ستا یاد خومره ګرم وکړو...!!

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور وکړئ! مقامِ ابراهیم کوم چې یو کاڼے دے، د دې مبارک کاڼي د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام سره یو نسبت دے، ځکه عین د نـمونځ په حالت کښې د دې کاڼي یعني د دې د مُصلّٰے جوړولو حکم شوے دے. د سوچ خبره دا ده چې د نـمونځ په حالت کښې د یو کاڼي د تعظیم سره نـمونځ ته څۀ نقصان نه رسي، نـمونځ نه ماتیږي، په دې کښې هیڅ کمے نه راځي بلکې نـمونځ [په هر لحاظ سره] پوره وي نو بیا ټولو د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام بلکې د نبیانو د امام، رسولِ ذیشان صَلَّى الله عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خیال راتلو به په نـمونځ کښې خلل ولې راځي...؟ رښتیا خبره دا ده چې د نـمونځ په حالت کښې د نبي د تعظیم په



[3]...اخبار مکۃ للفاکھی، جلد:1، صفحہ:466، حدیث:1027۔

خيال راتلو سره نـمونځ نه ماتيږي بلکې نور کامِل او اکمل کيږي. چا عاشق څۀ ښه وئيلي دي:

کیا کرم کِیَا تیری یاد نے، مجھے آ جگایا نماز میں

میرے وہ بھی سجدے ادا ہوئے جو قضا ہوئے تھے نماز میں

وضاحت: يعني اے رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما پۀ غفلت کښې نـمونځ کولو، وجود خو مې پۀ نـمونځ کښې وو خو پۀ زړۀ کښې مې دنيائي خيالونه راتلل، بيا کرم وشو، عين د نـمونځ پۀ حالت کښې ستاسو ياد راغلے، هُغه ياد کرم وکړو، زۀ يـې د غفلت نه رابيدار کړم، بيا مې حالت دا شو چې زما هُغه سجدې کومې چې د غفلت پۀ حالت کښې ادا شوې وې، ستاسو د ياد پۀ برکت د هُغه سجدو کمے هُم پوره شو او ما پۀ پوره خشوع او خضوع سره د رَبّ پۀ حضور کښې سجدې وکړې.

خير د تبرکاتو ډير برکتونه دي، د الله پاک د نبيانو، وليانو او نيکانو خلقو سره نسبت لرونکې خيزونه چې پۀ لاس راشي نو د هغې ډير تعظيم کول پکار دي. الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ❁ حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام ډير د اوچتې مرتبې والا نبي دے ❁ الله پاک هغوئي خپل خليل جوړ کړے دے،

ځکه هغوئي ته خَلِيلُ الله وئيلے شي ❁ د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام نه پس چې څومره هم انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام تشريف راوړے دے، ټول د هغوئي په اولاد کښې دي، ځکه هغوئي ته " اَبُوالْاَنْبِيَا (يعنې د انبيائے کرامو پلار) هم وئيلے شي ❁ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغه ورومبنے انسان دے چا چې باقاعده د اهتمام سره د ميلمه ميلمستيا فرمائيلې وه[4] ځکه د هغوئي لقب دے: اَبُوالضَّيْفَان يعنې ميلمستيا کوونکے.[5]

❁ د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حُليه مُبَارَکه او ظاهري شکل او صورت د تاجدارِ انبيا، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان وو، تر دې پورې چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ليدل غواړئ نو خپل صاحب (يعنې مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته وګورئ...!![6]

وہ جَدِّ مصطفٰے ہیں، رَبّ کے خلیل ہیں | ہے نام ابراہیم، وَجِیہ و جلیل ہیں

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په قرآنِ کريم کښې په ډيرو ځايونو کښې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ذِکرِ خير شوے دے، د هغوئي صفتونه او کمالونه، د هغوئي معجزې، د هغوئي اطاعت او فرمانبرداري او د الله پاک سره محبت وغيره ډير ښکلي او ښائسته واقعات هم په قرآنِ مجيد کښې بيان



4...مراٰۃ المناجیح، باب: الترجل، الفصل: الثالث، جلد:6، صفحہ:193۔
5...حلیۃ الاولیاء، عکرمہ مولی ابن عباس، جلد:3، صفحہ:385، حدیث:4361۔
6...بخاری، کتاب: احادیث الانبیاء، باب: واتخذ اللہ ابرہیم خلیلا، صفحہ:856، حدیث:335۔

www.dawateislami.net

شوي دي. راځئ چې د هغوئي د پاک سيرت د يو څو ښکلو واقعاتو اوريدو او د هغې نه د سبق حاصلولو سعادت حاصل کړو:

## د څلورو مرغو قرآني واقعه

روايت دے چې يو ځل حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د سمندر په غاړه تيريدلو، هغوئي يو مړے وليدو، حالت يې دا وو چې د سمندر مهيانو [يعنې کبانو] هم د هغې غوښه راشوکوله او مرغو هم د هغې غوښه خوړله. دا يې چې وليدلو نو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حيران شو.

هسې خو د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ايمان او يقين څومره پوخ وو، په هغې خو هيڅ کلام نشي کيدے، د هغوئي په شان کامِل ايمان به چا ته نصيب وو...؟ دا صرف يوه حيرانتيا وه چې دغه مړے ډير ټوټې ټوټې شوے وو، د هغۀ څۀ حصه د مهيانو خيټې ته تلې وه، څۀ د مرغو خيټې ته تلې وه، څۀ د اوبو سره رژيدلې وه، هغه مړے په دومره ډيرو ټکړو کښې تقسيم شوے وو، بيا په قيامت راتلو کښې هم لا صدې پاتې دي، د حيرانتيا خبره ده چې **اللّٰه** پاک به د قيامت په ورځ دا مړے څنګه راژوندے کوي؟ په دومره ځايونو کښې خورې شوې ټکړې به څنګه راجمع کوي؟ نو هغوئي د اللّٰه کريم په بارګاه کښې پوښتنه وکړه:

رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰىؕ
(پاره:2، البقره:260)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے زما رَبه! ته ما ته را اُوانبائے چې ته به مړي څنګه ژوندي کوے؟

**يعنې اے زما مالکه! اے زما پالونکيه! زۀ په دې خو پوهيږم، منم يې،**

يقين لرم چې ته به مړي راژوندي کوې خو دا مړي به څنګ راژوندي کيږي؟ دا ما ته وښايئ. (تفسير نعيمي)

پۀ دې باندې چا اِعتراض کولے شو چې شايد د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام ځۀ شک وو، لهٰذا **الله** پاک هم د هغوئي پۀ خُله جواب عطا کړو، ارشاد وشو:

**اَوَلَمۡ تُؤۡمِنۡ ؕ** (پاره:2، البقره:260) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آيا ته يقين نه لرې؟

حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام عرض وکړو:

**بَلٰی وَلٰکِنۡ لِّیَطۡمَئِنَّ قَلۡبِیۡ ؕ** (پاره:2، البقره:260) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: يقين ولې نه لرم خو دا (غواړم) چې زما زړه ته قرار حاصل شي.

**يعني اے کريم مالِکه!** ته مړي راژوندي کوې پۀ دې باندې زما پوره يقين دے، پوخ ايمان مې دے، خو تر اوسه پورې ما ته عِلۡمُ الۡیَقِیۡن حاصل دے (يعني ما ته د وحې پۀ ذريعه معلومه شوې ده او منلې مې ده او پوره يقين مې کړے دے) خو اوس عَیۡنُ الۡیَقِیۡن (يعني پۀ سترګو ليدلو سره نور پوخ يقين) حاصلول غواړم. (تفسير نعيمي)

الله کريم د هغوئي دا درخواست پوره کړو او حکم وشو: اے ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام ! څلور مرغۍ راونيسئ! هغه د ځان سره عادتي کړئ! بيا هغه ذبح کړئ! بيا يې قيمه کړئ! بيا د هغې غوښه د يوې بلې سره ګډه وډه کړئ! بيا د هغوئي سرونه د ځان سره کيږدئ! او د غوښې څلور حصې کړئ او پۀ څلورو غرونو باندې يې کيږدئ! او

**ثُمَّ ادۡعُهُنَّ** (پاره:2، البقره:260) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا هغوئي را اُوبله.

يعني بيا هُغه مرغۍ راوبلې! هغوئي به په منډه ستاسو خوا له راشي.

حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام هم داسې وکړل، څلور مرغۍ يې راواخستې، کومې کومې مرغۍ وې؟ علمائے کرام فرمائي: هغوئي (1): يو طاؤس (2): يو بانګي (3): يوه کونتره (4): او يو ټپوس يا کارغه راونيول. هغه يې د ځان سره عادت کړل، بيا يې هغه څلور واړه ذبح کړل، د هغوئي سرونه يې ځان سره کېښودل او هغوئي يې د يو بل سره ګډ وډ قيمه کړل بيا يې هغه قيمه څلور ځايه کړه او په څلورو مختلفو غرونو باندې يې هُم هغسې ګډه وډه کېښوده، بيا يې چې څنګه هغوئي ته غږ وکړو نو د هُغه څلورو واړو غوښه د خپلو ځايونو نه راوالوتله او د هغوئي خوا له راغله او د خپلو خپلو سرونو سره يو ځائے شوه، هم داسې څلور واړه مرغۍ بيا راژوندۍ شوې. الله پاک ووفرمائيل:

وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶۰﴾
(پارہ:2، البقرہ:260)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او پوهه شه چې الله غالِب حِکمت والا دے.

يعني پوهه شه چې الله پاک غالِب دے، هغه د مجبوره کيدلو نه پاک دے، هغه حکمت والا دے، د هغهٔ يو کار هم د حکمت نه خالي نه وي. (تفسير نعيمي)

سب کا پیدا کرنے والا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
سب سے اَفْضَل سب سے اَعْلیٰ میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
جگ کا خالق، سب کا مالِک، وہ ہی باقی، باقی ھَالِک (فنا ہونے والے)

سچّا مالک، سچّا آقا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
عزّت والا، حکمت والا، نعمت والا، بَرَکت والا
میرا پیارا، میرا آقا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ![7]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قيامت راتلونکے دے، ضرور راتلونکے دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ايمان تازه کوونکې قرآني واقعه کومه چې مونږ اوس واوريده، په دې کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډير سبقونه دي. وړومبے سبق خو هم دا دے چې قيامت راتلونکے دے، ضرور راتلونکے دے، د مرګ نه پس به مونږ بيا راژوندي کړے شو، ضرور به مو راژوندي کوي او دا کار د **الله** پاک د پاره هيڅ ګران نه دے. هغه خالِق او مالِک جَلَّ شَانُهٗ چې د کُنْ فرمائيلو سره په زرګونو جهانونه پيدا کولے شي، د هغهٔ د پاره څهٔ مشکل دي؟ **الله** پاک فرمائي:

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾ (پاره:30، اَلنّٰزِعٰت:1514)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو هغه (پوکے) خو بس يوه رټنه ده، نو فوراً به هغوئي په يو فراخه ميدان کښې پراته وي.

**الله**! **الله**! دا دے د **الله** پاک قُدرت...!! غير مسلمو دا ډيره ګرانه ګڼله چې په وراسته شوو هډوکو کښې به ساه څنګه اچوي؟ هغوئي به څنګه بيا راژوندي کوي؟ **الله** پاک ووفرمائيل: دا خو به صرف يوه رټنه وي، بس!



7...کتاب العقائد، صفحه:13۔

www.dawateislami.net

شپيلۍ به ووهلے شي، بيا به هم په هٔغه سعت زرګونو کاله زاړه مړي هم د خپلو قبرونو نه راپاڅي. (8)

## مړو ته اواز کول څنګه دي...؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نور په دې واقعه دا غور هم وکړئ چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام څلور مرغۍ راواخستې او يې ذبح کړې، بيا يې د هغو غوښه د يوې بَلې سره ګډه وډه کړه، بيا يې هغه غوښه لرې په غرونو باندې کيښوده، د دې نه پس يې څهٔ وکړل، الله پاک فرمائي:

ثُمَّ ادْعُهُنَّ (پاره:2، البقره:260) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا هغوئي را اُوبله.

دلته لږه د پوهيدلو خبره ده ✿ انسانان نهٔ بلکې مرغۍ دي ✿ ژوندۍ نه بلکې مړې دي ✿ نزدې نه دي بلکې لرې دي. الله پاک حکم وکړو او حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هٔغه مړو مرغو ته د لرې نه غږ وکړو: تَعَالَيْنَ يعني ✿ اے بانګې! دلته راشه ✿ اے کونترې! دلته راشه ✿ اے طاؤسه! دلته راشه ✿ اے تپوسه! دلته راشه.

د دې نه دا معلومه شوه چې مړو ته غږ کول شِرک نشي کيدے، که مَعَاذَ الله! دا شِرک وے نو الله پاک به دغه مړو مرغو ته د غږ کولو حکم نه کولو، نهٔ به حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چرې داسې رابللې.

اوس لږه د سوچ خبره ده، چې مړ طاؤس، کونتره، تپوس وغيره ته غږ کول شِرک نه دے نو انسان خو اَشرفُ المخلوقات دے چې کله د دُنيا نه لاړ شي، هغهٔ



8... صراط الجنان، پاره:30، النازعات، زیرآیت:10-14، جلد:10، صفحہ:526 ماخوذاً۔

www.dawateislami.net

ته غږ کول څنګه شِرک کيدے شي؟ بلکې د رسولانو سردار، په ټول مخلوق کښې د ټولو نه افضل او اعلیٰ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې يقيناً ژوندے دے، په خپل مزار مبارک کښې د دُنيائي ژوند سره تشريف فرما دے، خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په يا رسولَ الله! وئيلو سره غږ کول شِرک څنګه کيدے شي؟

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دا ربښتوني عقيده ده چې د الله پاک نبي هم ژوندے دے، ټول اوليائے کرام هم د الله پاک په عطا سره، په خپلو خپلو مزارونو کښې ژوندي دي، چې دې مړو مرغو ته غږ کول شِرک نه دے نو ❀ يا صِدّيق! ❀ يا عُمَر! ❀ يا عثمان! ❀ يا عَلِي! وئيل به ولې شِرک وي؟ ❀ يا غوثِ پاک وئيل ❀ يا داتا وئيل ❀ يا خواجه وئيل ❀ يا امام احمد رضا وئيل څنګه شِرک کيدے شي؟ يقيناً انبيائے کرامو ته، اوليائے کرامو ته، د الله پاک نيکانو بندګانو ته د دُنيا نه د تللو نه پس هم غږ کول هيڅکله هم شِرک نه دے بلکې د خوارلس نيمو سوؤ صدو نه د اهلِ حق عاشقانِ رسول دا ربښتونې عقيده ده. مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! يا رسولَ الله ويوونکي يو، مونږ به د يا رسولَ الله نعره وهله، وهو يې او وړاندې به يې هم وهو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم

| | |
|---|---|
| يارسولَ اللہ! کے نعرے سے ہم کو پیارا ہے | جس نے یہ نعرہ لگایا، اس کا بیڑا پار ہے |
| خُلد میں ہو گا ہمارا داخلہ اس شان سے | یارسولَ اللہ کا نعرہ لگاتے جائیں گے |
| نعت خوانی موت بھی ہم سے چُھڑا سکتی نہیں | قبر میں بھی مُصطفےٰ کے گیت گاتے جائیں گے |

پُکارو...! یارسولَ اللہ! یاحبیبَ اللہ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ ايمان کښې د کمال او مضبوطۍ شوق

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د مرغو د راژوندئ کيدو د دې قرآني واقعې نه يو اهم سبق کوم چې مونږ ته ميلاويږي هغه دا دے چې **پهٔ ايمان** کښې د کمال او مضبوطۍ شوق.

وګورئ چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د **اللّٰه** پاک نبي دے، د هغهٔ خليل دے، پهٔ ټول مخلوق کښې د ټولو نه اوچته درجه زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده، د هغې نه پس د ټولو نه اوچتې درجې والا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دے. د هغوئي ايمان څومره مضبوط وو، د هغې خو مونږ اندازه هم نشو لګولے ❀ نَمرُود بدبخته د هغوئي وور ته د اچولو جرأت وکړو، عين هٰغه وخت کله چې هغوئي وور ته واچولے شول، د هغوئي زړهٔ هٰغه وخت هم مطمئين وو، **دا د هغوئي د ايمان شان دے** ❀حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم وشو چې خپل وړوکے شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي مور بي بي سَيِّده هاجره رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهَا پهٔ شاړه دَره کښې پريږده! هغوئي د زړهٔ د اطمينان سره فوراً خپل آل هلته پريښودو. **دا د هغوئي د ايمان شان دے** ❀ هغوئي ته د خوي د قربانۍ حکم وشو، هغوئي بے ويرې د خوي پهٔ مرئ چاړه راښکله، **دا د هغوئي د ايمان شان دے.**

د دومره مضبوط، د دومره کامِل او اکمل ايمان لرلو باوجود د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام شوق ته وګورئ! هغوئي د دې مضبوط ترين ايمان د نور مضبوطولو خواهش لري، د **اللّٰه** کريم پهٔ بارګاه کښې عرض کوي:

| | |
|---|---|
| بَلٰى وَ لٰكِنْ لِّیَطْمَىٕنَّ قَلْبِیْؕ (پاره:2، البقره:260) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: یقین ولې نه لرم خو دا (غواړم) چې زما زړه ته قرار حاصل شي. |

یعنې اے **الله** پاکه! تهٔ مړي راژوندي کوې، پهٔ دې باندې زما کامِل او اَکمل، مضبوط ترین ایمان دے خو زهٔ د دې نه هم وړاندې درجې ته رسیدل غواړم، ما ته عِلْمُ الْیَقِیْن حاصل دے خو زهٔ عَیْنُ الْیَقِیْن حاصلول غواړم، یعنې د د وحي پهٔ ذریعه د معلوماتو لرلو ایمان لرم، اوس پهٔ سترګو د لیدلو پهٔ ذریعه د دې نه وړاندې درجې ته رسیدل غواړم. (9)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ښکلے صفت دے. کاش چې د دې پاک صفت فیضان زمونږ هم نصیب شي، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د دومره مضبوط ایمان باوجود د دې د نور مضبوطولو خواهش لرې، کاش چې زمونږ هم د خپل کمزوري ایمان د مضبوطولو نور خواهش زیاتیدل نصیب شي.

## د یو مسلمان ډیره اهمه ذِمه واري

دا خبره پهٔ ذهن کښې ساتئ چې پهٔ یو مسلمان باندې چې کومې بنیادي ذمه وارۍ دي، پهٔ هغې کښې یوه ډیره اهمه ذمه واري خپل ایمان مضبوطول دي او پهٔ اوسني وخت کښې د دې د ټولو نه زیات ضرورت دے. اوس هٔغه دور روان دے د کوم پهٔ باره کښې چې پهٔ **حدیثِ پاک** کښې ارشاد شوے دے چې: **یوه زمانه به راځي، انسان به سحر مؤمِن** [وي او] ماښام



9... تفسیر نعیمی، پاره:3، البقره، زیرآیت:260، جلد:3، صفحه:78 بتصرف۔

www.dawateislami.net

**به کافِر وي او ماښام به مؤمِن [وي] نو سحر به کافِر وي.** (10)

آه! افسوس! ځائے پۀ ځائے فتنې راوچتيږي، هره ورځ يوه نوې فتنه سر راوچتوي او د ډيرې خطرې خبره دا ده چې دا فتنې هر يو کَس ته [پۀ ډيره اسانۍ] رارسيدے شي. ښکاره ده چې پخوا به فتنې کمې وې او بيا حالت دا وو چې پۀ يو ملک يا پۀ يو ښار کښې به فتنه راوچته شوه نو نورو علاقو ته به د هغه فتنې پۀ خبر رسيدو کښې مياشتې او کلونه لګيدل خو اوس د سوشل ميډيا دور دے، سائنس او ټيکنالوجۍ ترقي کړې ده، اوس حالات داسې دي چې د دُنيا پۀ يو ګوټ کښې چې يوه فتنه راوچته شي نو د هغې اثرات پۀ يو څو سيکنډو کښې د دنيا بَل ګوټ ته وَرَسي.

**پخوا به فتنې کمې وې خو د ايمان د حفاظت کولو فِکر به زيات وو** خو پۀ دې دور کښې ډيره د افسوس او حيرانتيا خبره دا ده چې **اوس فتنې ډيرې دي، د ايمان لوټ کيدو موقعې ډيرې دي خو د ايمان د حفاظت کولو فِکر ډير کم خلق کوي.**

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** زمونږ سره د ټولو نه لوئي دولت ايمان دے، د دې حفاظت کول زمونږ ذمه واري ده او د دې حفاظت به څنګ کوو؟ د دې حفاظت به پۀ ايمان مضبوطولو کوو...!! اوګورئ! چې کله کورونا وائرس راغلے وو نو ډاکټرانو صاحبانو به وئيل: خپل مُدافعتي نظام مضبوط کړئ نو د کورونا نه به تر ډيره حده پورې بچ شئ.

يعنې مُدَافعتي نظام چې څومره مضبوط وي، انسان د وائرس او نورو



10... مسلم، كتاب الايمان، باب الحثّ على المبادرة بالاعمال، صفحه:62، حديث:186۔

www.dawateislami.net

بیمارو نه دومره بچ وي، دغه شان نن د فتنو پۀ دې دور کښې که مونږ د ایمان حفاظت کول غواړو نو د دې د پاره به خپل [د ایمان بچ کولو] مدافعتي نظام مضبوطول وي، یعنې ایمان دومره پوخ کړئ، دومره پوخ کړئ چې که څوک هر څومره زور ولګوي خو زمونږ ایمان چرې هم اونه خوزي. چې داسې کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د ایمان پۀ حفاظت کولو کښې به تر ډیره حده پورې کامیاب شو.

## ایمان به څنګه مضبوطوو؟

اوس پوښتنه دا ده چې ایمان به څنګه مضبوطوو؟ حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے، ډیره اوچته مرتبه لري، دا هم د هغوئي شان دے چې هغوئي د مړو د راژوندي کولو خواهش ووفرمائیلو نو **الله** پاک هغوئي ته دا وښودل ❁ زمونږ د پاره به د قبرونو نه مړي نه راپاځي ❁ مونږ ته به سپوږمۍ نه دوه ټوټې کیږي ❁ مونږ ته به نمر واپس نه راګرځولے کیږي ❁ یعنې اوس به څوک نوے نبي نه راځي، مونږ ته به معجزې نه ښودلے کیږي. مونږ ته د خپل ځان مطابق تلل او هُم ېخپله د خپل ایمان مضبوطولو کوشش کول دي. دا به څنګ کوو؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ پۀ هر لحاظ سره راهنمائي فرمائیلې ده، تاسو مبارک حدیثونه ولولئ! په حدیثونو مبارکو کښې د ایمان مضبوطولو ډیرې زیاتې طریقې ښودلے شوې دي.

❁ پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي:

لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْن

**ترجمه:** پهٔ تاسو کښې ځوک هم تر هغه وخته پورې کامِل ایمان والا نشي کیدے، تر څو چې ما د خپل مور پلار، اولاد او د ټولو نه زیات محبوب جوړ نکړي.(11)

**معلومه شوه چې چې د رَسُولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سره ډیر زیات محبت کول ایمان مضبوطوي.**

✿ پهٔ **حدیثِ پاک** کښې ارشاد شوے دے:

اَوْثَقُ عُرَی الْاِیْمَانِ اَلْحُبُّ فِی اللهِ

**ترجمه:** یعني د **الله** پاک د رضا د پاره (د **الله** پاک د بندګانو سره) **محبت** کول، د ایمان د ټولو نه مضبوطه رَسی ده.

**معلومه شوه چې د الله پاک د نیکانو بندګانو، نبیانو او ولیانو سره، صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو سره پهٔ محبت کولو، دې ټولو پاکو هستیانو سره د خپل رُوحاني تعلق مضبوطولو سره ایمان پخیږي.**

✿ پهٔ یو بل **حدیثِ پاک** کښې دي:

لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یَکُوْنَ هَوَاهُ تَبِعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ

**ترجمه:** یعني پهٔ تاسو کښې ځوک هم تر هغه وخته پورې کامِل مؤمِن نشي کیدے، تر څو پورې چې د هغهٔ خواهشونه زما د راوړے شوي دِین تابع نشي.(12)

**معلومه شوه چې د خپلو خواهشونو ختمولو او پهٔ دِین باندې د عمل کولو سره ایمان مضبوطیږي.**



11...بخاری، کتاب بدء الایمان، باب حب الرسول من الایمان، صفحہ:74، حدیث:15۔
12...مشکوۃ، کتاب الایمان، الفصل الثانی، جزء:1، جلد1، صفحہ:54، حدیث:168۔

www.dawateislami.net

❁ په يو بل حديثِ پاک کښې دي:

لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ

ترجمه: يعني په تاسو کښې ځوک هم تر هٰغه وخته پورې کامِل مؤمِن نشي کيدے، تر څو پورې چې د خپل ورور د پاره هم هٰغه څۀ خوښ نکړي، څۀ چې د ځان د پاره خوښوي. (13)

معلومه شوه چې څۀ د ځان د پاره خوښوئ، هُم هٰغه د نورو د پاره خوښول شروع کړئ ❁ که د ځان د پاره مو عزّت خوښ دے نو نورو له عزّت ورکول شروع کړئ ❁ که د ځان د پاره مو اسانئ خوښې دي نو نورو له هم اسانئ ورکول شروع کړئ ❁ که خپل تعريف مو خوښ دے نو د نورو تعريف کوونکي ❁ د غيبت او چغلئ وغيره نه بچ کيدونکي جوړ شئ، غرض چې کوم شه والے مو د ځان د پاره خوښ دے هم هٰغه د خپلو مسلمانانو ورونو د پاره هم خوښول شروع کړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ايمان به مو مضبوط شي.

ما دا يو څو حديثونه عرض کړل، د دې نه علاوه نور هم ډير حديثونه دي، په کومو کښې چې مونږ ته د ايمان مضبوطولو طريقې ميلاويږي، هغه ولولئ زده يې کړئ، او عمل پرې وکړئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ايمان به مو مضبوطيږي او د فتنو نه به حفاظت درنصيب کيږي.

ہر دَم ابلیس پیچھے لگا ہے | حِفْظِ ایمان کی اِلتجا ہے
ہو کرم اَمْن روزِ جزا کی | میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے
رُوح عطّار کی جب جُدا ہو | سامنے جلوۂ مصطفےٰ ہو



13... بخاری، کتاب بدءالایمان، باب من الایمان ان یحب...الخ صفحہ: 74، حدیث: 13۔

www.dawateislami.net

ان کے قدموں میں اس کو قضا کی | میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے[14]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام او حياء

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام په ښکلو ښکلو صفتونو کښې يو صفت حيا هم ده. صحابي رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام ډير حيا دار وو. دومره حيا به يـې کوله چې هغوئي به [د لنګ اچولو باوجود] دا خبره هُم ناخوښه ګڼله چې زمکه د هغوئي د پردې ځايونه ويني، هغوئي د **الله** پاک په بارګاه کښې عرض وکړو نو **رَبِّ** کريم جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام راوليږلو، هغوئي د جنّت نه يوه کپړه راوړله او عرض يـې وکړو: خپلې کور وداني حضرت سارّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ته ووفرمايئ چې د دې نه پرتوګ وګنډي. حضرت سارّه د ښودلے شوې طريقې مطابق پرتوګ وګنډلو. چې کله ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام واغوستو نو خوشحاله شو او اوئې فرمائيل: **دا د پردې د پاره څومره ښه دے.** (15)

سُبْحٰنَ الله! څومره عظيم الشانه حياء ده...!! **الله** پاک دې زمونږ هم حياء نصيب کړي. نن سبا د حيا ډير کمے دے. ډير زيات کمے دے ✿ په اکثرو کورونو کښې باقاعده اِسلامي پرده نشته ✿ د غير مَحرِمو مثلاً د ترۀ د ځامنو، ترور د ځامنو وغيره سره ښکاره خبرې اترې او ټوقې ټقالې وغيره کيږي ✿ بيا د



14...وسائلِ بخشش، صفحہ: 124، 125۔
15...الانس الجلیل، جلد: 1، صفحہ: 129۔

واده ښادۍ په موقعو باندې ډېره ډېره بې حيائي کيږي ❀ د انټرنيټ وغيره په ذريعه د فحاشۍ او بې حيايۍ څيزونه کتلے شي ❀ کنده ويب سائټس هم خلق ګوري ❀ خرابې خبرې کول ❀ خراب څيزونه کتل ❀ خراب سوچ کول وغيره ورځ په ورځ عام کيږي.

**الله** پاک دې زمونږ د حياء دولت نصيب کړي. ياد ساتئ چې حياء هم د ايمان د مضبوطولو صفت دے. خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه حيا او ايمان دواړه يو ځائے دي **فَاِذَا رُفِعَ اَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ** يعنې چې کله په دې کښې يو اوچت شي [يعنې لا ړ شي] نو دويم هم اوچت شي [يعنې لا ړ شي].[16]

مطلب دا دے چې [د چا] حيا څومره کمه وي نو [د هغۀ] ايمان به هُم هغه همره کمزورے وي او چې [د چا] حيا څومره زياته وي نو ايمان به يې هم هغه همره مضبوط وي.[17]

اُٹھے نہ آنکھ کبھی بھی گناہ کی جانِب
عطا کرم سے ہو ایسی مجھے حیا یارَب!
کسی کی خامیاں دیکھیں نہ میری آنکھیں اور
سُنیں نہ کان بھی عیبوں کا تذکرہ یارَبّ!

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د حاجي زَم زَم عطّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حيا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** نن 21 ذِيقَعدَه ده. په نني ورځ مرحوم



[16]...جامع صغير، حديث: 1964۔
[17]...فيض القدير، جلد: 2، صفحه: 413، زيرِ حديث: 1964۔

www.dawateislami.net

رُکنِ شُوریٰ، مَحبُوبِ عطّار حاجي زَم زَم عطّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شوے وو ❁ حاجي زَم زَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډېر نیک طبیعت مالِک وو ❁ پۀ نیکو اعمالو باندې به يــې ډېر زیات استقامت لرلو ❁ عاشقِ رسول هم د ډېر کمال والا وو او ❁ د مُرشِد محبت خو د هغوئي پۀ زړۀ کښې داسې کیوتلے وو چې فَنَا فِي المُرشِد وو یعنې د پیر صاحب پۀ محبت کښې لکه چې ډُوب وو ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! حاجي زَم زَم هم ډېر حیا دار وو.

## پۀ ائیر پورټ کښې د سترګو حفاظت

د یو ذِمه دار اِسلامي ورور بیان دے چې یو ځل زما د حاجي زَم زَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره بمبئی ته د سفر کولو موقع نصیب شوه، پۀ ټوله لاره باندې هغوئي نظر ښکته ساتلو حالانکې پۀ جاز کښې بے پردګي، بیا پۀ ائیر پورټ باندې د امیګریشن د معاملاتو پۀ وخت پۀ کاؤنټر باندې د زنانۀ سره هم واسطه راغله خو د بمبئی ائیر پورټ نه د وتو پۀ وخت هغوئي د ترغیب پۀ طور ووفرمائیل: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د کراچی نه تر دې ځایه پورې پۀ یوه زنانه هم زما نظر نۀ دے پریوتے.(18)

## بیا بیا به یــې سترګې پټولې

حاجي زَم زَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیمار وو، ځو ځو ځله هسپتال ته بوتللے شو، د مختلفو اِسلامي ورونو بیان دے چې مونږ به کله هم حاجي زَم زَم هسپتال ته بوتلو نو هغوئي به اکثر خپلې سترګې پټولې او فرمائیل به یــې: **پۀ هسپتال**



18... محبوبِ عطّار کی 122 حکایات، صفحہ: 53۔

کښې نرسې وغيره وي، زۀ ويرېږم چې هسې نه پۀ دوئي مې نظر پرېوځي او پۀ دغه حالت کښې مې مرګ راشي.

رُکنِ شُوریٰ حاجي علي عطّاري فرمائي: يو ځل زۀ هسپتال ته د هغوئي د تپوس د پاره تلے ووم، هُغه وخت ما وليدل چې هغوئي به بيا بيا خپلې سترګې پټولې. ما دا وګڼله چې شايد هغوئي له خوب ورغلے دے. نو ما ترينه اجازت وغوښتو چې تاسو اوده شئ! زۀ ځم. اوئې فرمائيل: تاسو تشريف کيږدئ! ما له خوب نه دے راغلے بلکې د نرسو مخې ته د راتلو د وېرې نه سترګې پټووم د پاره د دې چې پۀ دوئي مې نظر پرېنوځي.[19]

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه هم داسې حيا نصيب کړي. کاش چې د نظر ښکته ساتلو عادت مو جوړ شي.

آقا کی حیا سے جھکی رہتی نظر اکثر
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ
گر دیکھے گا فلمیں تو قیامت میں پھنسے گا
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ
آنکھوں میں سرِ حشر نہ بھر جائے کہیں آگ
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ (20)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



19... محبوبِ عطّار کی 122 حکایات، صفحہ: 52۔
20... وسائلِ بخشش، صفحہ: 94،95۔

# د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يو څو نصيحتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ د الله پاک د نبي حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د يو څو واقعاتو د اوريدو سعادت حاصل کړو، راځئ چې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د يو څو نصيحتونو سعادت هم حاصل کړو:

## د عبادت او تقویٰ نصيحت

په قرآنِ کريم کښې دي: حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خپل قوم ته ووفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اُعۡبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوۡهُ ؕ (پاره:20، العنكبوت:16) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله عبادت کوئ او د هغه نه اُويَرېږئ، |

دا د دوو خبرو نصيحت دے: (1):د الله پاک عِبَادت کوئ! (2):تقویٰ اختيار کړئ!

کاش چې زمونږ په دې دوو خبرو باندې د عمل سعادت نصيب شي، چې ❀ مونږ د الله پاک عبادت هم کوو ❀ ډير ډير نـمونځونه هم کوو ❀ که کيدے شي نو نفلي روژې هم اونيسو ❀ تلاوت هم وکړو ❀ دُرُودِ پاک هم ولولو ❀ د ذِکرُ الله کثرت هم وکړو ❀ او الله پاک دې زمونږ نصيب کړي چې تقویٰ هم اختيار کړو.

## په عَشرَهٔ ذِي الحج کښې د عبادت فضيلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډيره زر ذُو الـحِجَّةُ الـحرَام تشريف راوړو والا دہ، دا د عبادت مياشت دہ. د دې ورومبی لس شپې ډيرې د فضيلت والا دي.

❀حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: د الله پاک آخري نبي،

رسولِ هاشمي، مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَا مِنْ اَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا اَحَبُّ اِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ

ترجمه: يوه ورځ داسې نشته په کومه کښې چې نيک عمل کول د الله پاک په نزد د دې لسو ورځو نه زيات محبوب وي. [21]

يعني په عامو ورځو کښې چې کومه نيکي وکړے شي هغه هم د الله پاک ډيره خوښه ده، په عامو ورځو کښې نيکي کول هم ډيره د فضيلت خبره ده خو د عامو ورځو په نسبت په عشرهٔ ذِو الحج (يعني د ذُو الحج په وړومبو لسو ورځو کښې) نيکي کول الله پاک ته ډيره زياته محبوب ده.

✿ په يو بَل روايت کښې دي:

وَالْعَمَلُ فِيهِنَّ يُضَاعَفُ سَبْعُ مِئَةِ ضِعْفٍ

ترجمه: په دې لسو ورځو کښې د نيکۍ ثواب 700 چنده زيات کړے شي.[22]

✿ په ترمذي شريف کښې حديثِ پاک دے: مَا مِنْ اَيَّامٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ اَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِى الْحِجَّةِ يعني په عشرهٔ ذِي الحج کښې عبادت کول الله پاک ته د عامو ورځو په نسبت زيات محبوب دے يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِّنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ په دې ورځو کښې د يوې ورځې روژه د يو کال د روژو برابر ده وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِّنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ او د دې ورځو د هرې شپې قيام (يعني عبادت کول) د شبِ قدر د قيام برابر دے. [23]



21...ابوداؤد، کتاب الصوم، باب فی صوم العشر، صفحہ:390، حدیث:2438۔
22...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:356، حدیث:3757۔
23...ترمذی، کتاب الصوم، باب ماجاء فی العمل، صفحہ:211، حدیث:758۔

| | |
|---|---|
| ہر ہر گھڑی ہے اس کی عِزّ و فَضل میں یکتا | بادَل کرم کا چھایا، ماہِ حرام آیا |
| بڑھتی ہیں اس میں قدریں نیکی کی یاد رکھنا! | کرنا نہ وقت ضائع، ماہِ حرام آیا |

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور وکړئ چې خومره ښکلې او د فضیلت والا ورځې دي ❁ خومره عظیمې شپې دي ❁ په دې شپو کښې د یوې نیکۍ ثواب 700 چنده زیات شي ❁ په دې ورځو کښې نیکې کول افضل نیکي ده ❁ په دې ورځو کښې د یوې ورځې روژه نیول د یو کال د روژو برابر ده ❁ د دې ورځو په شپو کښې قیام کول (یعني د شپې ویښ پاتې کیدل او عبادت کول) په شبِ قدر کښې د عبادت کولو برابر دے.

## خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به نفلې روژې نیولې

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت حَفصه رَضِیَ اللہُ عَنْھَا فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په عشرهٔ ذِي الحج کښې په پابندۍ سره نفلې روژې نیولې.[(24)]

یاد ساتئ چې د عَشرَهٔ ذِي الحج د روژو مطلب دے: د ذُو الحج د وړومبو 9 ورځو روژې چې د لسم ذُو الحج (یعني د غټې اختر) د ورځې روژه نیول جائز نه ده.

کاش چې مونږه هم د نیکو حریص جوړ شو ❁ زمونږه خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د عشرهٔ ذي الحج روژې نیولې، کاش چې مونږ هم د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې ادا، ادا کولو د پاره نفلې روژې ونیسو



24... صحیح ابن حبان، کتاب التاریخ، صفحہ:1703، حدیث:6422۔

www.dawateislami.net

❁ نـمونځونه وکړو ❁ عبادت وکړو چې دا ګټه به پهٔ قبر او حشر کښې زمونږ پکـار راځي، باقي هر څهٔ خو به دلته پاتې شي، د عشرهٔ ذي الحج يوه نيکي 700 چنده زياتولے شي، لهٰذا د دې موقعې نه فائده واخلئ او ښې ډيرې نيکۍ وکړئ. الله پاک دې مونږ ټول د خپلې رضا والا کارونو کښې د مصروف اوسيدو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

کچھ نیکیاں کمالے، جلد آخرت بنالے | کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا (25)

## د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پيغام، مونږ غلامانو پهٔ نوم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يو خصوصي نصيحت کوم چې مونږ غلامانو د پاره دے، واورئ! او زړهٔ خوشحاله کړئ! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مِعراج په شپه زما د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو، هغوئي ووفرمائيل: اے محبوب نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! خپل اُمَّت ته زما سلام ورسوئ!

(سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده...!! د آقا کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت پهٔ مونږ ګنهګارانو باندې څومره عنايتونه دي...!!) د الله پاک خليل عَلَيْهِ السَّلَام مونږ ګنهګارانو ته سلام راستوي.

اے ماہِ مدینہ تری تنویر کے قرباں!
چمکا دیا اُمّت کا نصیبہ شبِ معراج

الله پاک دې مونږ ته پهٔ دې کرم او عنايتونو باندې د شُکر ادا کولو



25...وسائل بخشش، صفحہ:178۔

www.dawateislami.net

توفيق راعطا کړي. مَدَّاحِ حبيب مولانا جميل رضوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:

اپنے محبوب کی اللہ نے اُمّت میں کیا

سُنّیو...!مِل کے کرو شکرِ خُدا آج کی رات...!!

خير! ما روايت بيانولو چې حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د خوږ محبوب صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذريعه اُمَّت ته سلام راواستولو، بيا يې ووفرمائيل: اے محبوب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپل اُمَّت ته ووفرمايئ چې جنّت پاکه او زرخيزه زمکه ده او د خالي ميدان په شکل کښې ده. بے شکه د دې ځائے باغونه سُبۡحٰنَ الله! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله او اَللهُ اَكۡبَر دي.[26]

يعني د جنّت زمکه خالي ده، بنده چې سُبۡحٰنَ الله! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله او اَللهُ اَكۡبَر وائي نو د دهٔ د پاره په جنّت کښې وَنې نالولے کيږي. ځکه اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل اُمَّت ته ووفرمايئ چې د دې کلماتو په کثرت سره ذِکر کوي د پاره د دې چې په جنّت کښې د هغوئي د پاره ډير باغونه ولګي.

مَاشَآءَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره ښکلے نصيحت دے. کوشش کوئ چې په کثرت سره د **الله** پاک د ذِکر کولو عادت جوړ کړئ! په يو ځل سُبۡحٰنَ الله وئيلو به خومره وخت لګي، کله کړې ته وګورئ (مثلاً Stopwatch ولګوئ) او اوئي لولئ! په يو سيکنډ کښې دوه درې ګرته سُبۡحٰنَ الله په اسانئ سره وئيلے شي. يعني صرف د سيکنډونو کار دے او د دې اجر خومره دے؟ يعني په يو ځل سُبۡحٰنَ الله وئيلو په جنّت کښې يوه ونه نالولے شي. **الله** پاک

323

26...الانس الجليل، جلد:1، صفحه:130۔

دې مونږ ته توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

میری زبان تَر رہے ذِکرو دُرُود سے | بے جا ہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فُضُول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قربانۍ په فضائلو باندې حديثونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د سُنتِ ابراهيمي يعنې د قربانۍ ورځې هم رانزدې دي. قرباني کول ډير د ثواب کار دے، د الله پاک د رضا والا کار دے، د دې په برکت د الله پاک قرب نصيب کيږي، قرباني کول سُنّتِ ابراهيمي دي، قرباني کول سُنَّتِ انبياء دي او قرباني کول د سَيِّدِ انبيا، محبوبِ خُدا، اَحمدِ مجتبیٰ، يعنې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې سُنَّت هم دي. ❁ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صديقه طيبه، طاهره رَضِیَ اللّٰہ عَنْہَا فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د نَحر (يعنې د لسمې ذو الحجه) په ورځ د الله پاک په نزد د ټولو نه خوښ عمل وينه توئيول (يعنې ښاروے ذبح کول) دي، بے شکه د قربانۍ ښاروي به د قيامت په ورځ د خپلو ښکرو، ويښتو او ښنګرو سره راځي او بے شکه د قربانۍ وينه په زمکه باندې د پريوتو نه مخکښې د الله پاک په نزد د قبوليت مقام ته رَسي، ځکه د زړۀ په خوشحالۍ سره قرباني کوئ! [27] ❁ د حضرت زَيد بِن اَرقم رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ نه روايت دے، د مدينے سرکار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ستاسو د پاره د قربانۍ



27...ترمذی، کتاب:الاضاحی، باب: فی فضل الاضحیہ، صفحہ:383، حدیث:1493۔

www.dawateislami.net

د څاروي د هر ويښته په بدل کښې يوه نيکي ده. [28] ✿ د امام حَسَن مجتبیٰ رضی اللہ عنہ نه روايت دے، د مکے سُلطان، د مدينے جانان صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د زړهٔ په خوشحالۍ د ثواب د پاره قرباني وکړي، د هغهٔ قرباني به د هغهٔ او د دوزخ ترمينځه خنډ [يعني رکاوټ] جوړه شي[29] ✿ مالکِ جنّت، قاسِمِ نِعمَت صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: بے شکه د الله پاک په بارګاه کښې د ټولو نه زياته خوښه قرباني هٔغه ده کومه چې په قيمت کښې اعلیٰ او ښه څَربه وي. [30] ✿ په يو روايت کښې فرمائي: د زوړ څاروي په ځائے د ځوان څاروي قرباني د الله پاک په بارګاه کښې زياته خوښه ده.[31]

الله پاک دې د حضرت ابراهيم عليهِ السَّلام په وسيله مونږ ته د نيکو کارونو توفيق راعطا کړي، چې د قربانۍ کولو توفيق هم رانصيب شي، او کاش چې مونږ د زړهٔ په خوشحالۍ سره د ټولو نيکو کارونو کوونکي جوړ شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم .

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د الله پاک د ويرې حاصلولو، د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو، د الله پاک د عبادت او د نيکو اعمالو د جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون

323

28...ابن ماجه، کتاب:الاضاحی، باب:ثواب الاضحیه، صفحه:510، حديث:3127۔
29...معجم کبير، جلد:2، صفحه:213، حديث:2670۔
30...مسند امام احمد، جد ابی الاشد، جلد:6، صفحه:375، حديث:15893۔
31...سنن کبری بيهقی، کتاب:ضحايا، باب: يستحب ان يضحی، جلد:9، صفحه:507، حديث:19092۔

مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښۀ پوره پوره برخه اخلئ! د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي. د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده.

❀ **سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي**: اَلْعِلْمُ بِالتَّعَلُّمِ عِلم پۀ زده کولو حاصليږي.[32] ❀ د اوسني وخت پۀ بدو کښې يوه بدي دا هم ده چې خلق ورځ پۀ ورځ د عِلمِ دِين نه لرې وځي ❀ د دِيني کتابونو د لوستو شوق د نشت برابر دے ❀ ځوانو خلقو به دِيني کتابونه ډير خوښول ❀ شپه او ورځ به يې کتابونه لوستل ❀ ځکه د هغوئي سره ديني معلومات هم ډير وو او ❀ ژوند به يې هم پاک وو.

❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي کور پۀ کور د ديني عِلم رڼا رسوي ❀ د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئي پخپله هم د عِلمِ دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني کتابونو د لوستو د شوق ترغيب ورکوي ❀ هغوئي پۀ هره هفته کښې د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❀ مختصره شان رساله وي ❀ پۀ يو څو منټو کښې لوستلے کيږي.

❀ **تاسو يې هم لولئ!** اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به مو کيږي ❀ ديني معلومات به مو زياتيږي ❀ د عِلمِ دِين د زده کولو ثواب به مو کيږي ❀ د ديني کتاب د لوستلو سره دماغ هم ښۀ کيږي



32...بخاری، صفحہ:90،حدیث:67۔

❀نظر تيزيږي ❀حکمت نصيب کيږي ❀ سوچ پاکيږي او ❀ پۀ ژوند کښې ښکلا راځي ❀ د جديد سائنسي تحقيقاتو ترمخه د کتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت کيږي.

هره هفته پۀ پابندی سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت وکړئ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **هفته واره رساله** لوستونکو ته مختلفې دُعاګانې هم کوي، مونږ چې **هفته واره رساله** ولولو نو څۀ پته چې د **الله** پاک د نيک بنده، ولئ کامِل د خُلې نه وَتې دُعا زمونږ په حق کښې قبوله شي او دُنيا او آخرت مو ښه شي.

## د سترګو د حفاظت ذهن يـې جوړ شو

د حيدرآباد (پاکستان) د يو اِسلامي ورور څۀ داسې بيان دے چې غالِباً د کال 2004ء خبره ده چې د حيدرآباد نه لاهور ته پۀ سفر پۀ ټرين کښې روان شوم. د سفر پۀ دوران کښې مې پۀ ټرين کښې د يو ځلمي سره ملاقات وشو، هغۀ به مسافرو له بالښتونه او خادرې پۀ کرايه ورکولې، ما پۀ هغۀ باندې انفرادي کوشش وکړو او د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله *اَمرَد پسندی کی تباہ کاریاں* مې ورله پۀ تحفه ورکړه.

تقريباً يوه مياشت پس چې کله بيا حيدرآباد ته تلم نو پۀ روهړي سټيشن کښې مې هم هُغه ځلمے بيا وليدو. هغۀ راوړاندې شو او ډير پۀ ښه انداز کښې يـې راسره ملاقات وکړو، پۀ زارئ مِنَت يـې پۀ ټرين کښې کينټين ته بوتلم. هلته يـې ما له چائے راوړله او اوئې وئيل: تاسو چې ما له کومه رساله راکړې وه، پۀ خدائے مې دې قَسم وي چې د هغې د لوستو سره

ما له ژړا راغله او اوس چي هم دا رساله لولم نو زما د سترګو نه اوښکې بهیږي. پهٔ ټرین کښې د نظر حفاظت ډیر ګران دے. خو د رسالې لوستو نه پس زهٔ کوشش کووم چي زما نظر پهٔ یو غیر محرم باندې هُم پرې نه وځي.

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ القُرآن موبائل ایپلي کیشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن په نوم د مَعرِفَةُ القُرآن جاري کړے دے. تاسو د دې ایپلي کیشن په ذریعه ❀ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ❀ په دې ایپلي کیشن کښې د آیتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، چي د هغې پهٔ مدد تاسو د خپلې موضوع مطابق قرآني آیتونه کتلے او لټولے شئ. خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه مدد اخستے شي ❀ په دې ایپلي کیشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد چي د آیتونو پهٔ لټولو کښې آساني پیدا کیږي ❀ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم پکښې موجود دے. تاسو هم دا ایپلي کیشن انسټال کړئ! پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خيالي پهٔ ورځ **امیرِ اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **پهٔ مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاكره** كوي، د راتلونكې هفتې پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چينل د شپې **تقريباً 9:15** بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاكره كيږي، پهٔ كومه كښې چې به **شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاكره كښې ښځله هم شركت وكړئ او نورو له هم دعوت وركړئ ✿ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب وركوي، پهٔ راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به د رساله **"د مدينے جوماتونه"** اعلان كيږي. دا رساله ښځله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر كړي! ✿ حج او عمره كوونكو ته د مكے او مدينے د مقدسو ځايونو عِلم نه وي د كومې پهٔ وجه چې بعضې وخت هغوئي د زيارت نه محرومه پاتې كيږي، د حَرَمينو د زيارت كوونكو د پاره ډيره بے بها تحفه، د ډيرو ځايونو تفصيل او د عشق نه ډكو ډيرو واقعاتو باندې مشتمل د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه كتاب **عاشقانِ رسول كى 130 حكايات** د مكتبة المدينه د يو شاخ نه پهٔ 240 روپۍ هديه واخلئ! ښځله يے هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب وركړئ!

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (33)

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش!

یاربّ! تو مبلّغ مجھے سُنّت کا بنادے (34)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوده کيدو او راپاڅيدو سُنت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د مازديګر نه پس اوده شي او د هغهٔ عقل لاړ شي نو هغه دې خپل ځان ملامته کړي. (35)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اوده کيدو نه مخکښې بستره ښه څنډئ چې که څه ضرر رسوونکے څيز وغيره پکښې وي چې لرې شي ❁ د اوده کيدو نه مخکښې دا دعا ولولئ اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا. ترجمه: يا الله پاکه! زهٔ ستا د نوم سره مرم او ژوندے کيږم (يعني اوده کيږم او راپاڅم) ❁ د ورځې په وړومبنی حصه کښې [يعني د نمر راختلو نه

323

33...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

34...وسائل بخشش، صفحہ:115۔

35...مسند ابی یعلٰی، جلد:4، صفحہ:121، حدیث:4915۔

مخکښې] اوده کیدل یا د ماښام او ماسخُوتن په مینځ کښې اوده کیدل **مکروه** دي. ❁پهٔ ماسپښین کښې قیلوله (یعنې لږ وخت څملاستل) مستحب دي ❁پهٔ اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې پهٔ اوداسه کښې اوده شئ، د لږ سعت د پاره پهٔ ښي اړخ داسې اُوده شئ چې ښے لاس د مخ لاندې کیږدئ او مخ پهٔ قبله اوده شئ بیا د هغې نه پس پهٔ ګڅ (یعنې پهٔ کیڼ) اړخ [اُودهٔ شئ] ❁د اوده کیدو پهٔ وخت پهٔ قبر کښې ملاسته یاده کړئ چې هلته به یواځې څملم، د خپلو اعمالو نه علاوه به راسره بل هیڅ څیز نه وي ❁د څملاستو پهٔ وخت د **اللّٰه** پاک پهٔ یاد کښې مشغول اوسیږئ، تَهْلیل و تسبیح وتحمید لولئ (یعنې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وظیفه لولئ) تر دې چې اوده شئ، چې پهٔ کوم حالت کښې انسان اوده شي پهٔ هُم هغې به پاڅیږي او پهٔ کوم حالت چې مړ شي د قیامت پهٔ ورځ به پهٔ هُم هغه حالت کښې راپاڅیږي ❁د خوب نه راپاڅیدلو نه پس دا دُعا لولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَ اِلَیْهِ النُّشُوْرُ، ترجمه: ټول تعریفونه **اللّٰه** پاک لره دي چا چې مونږ د مړ کولو نه پس راژوندي کړو او هم د هغهٔ پهٔ لور واپس ګرځیدل دي ❁ کله چې د هلک او جینۍ عمر لس کاله شي نو دوئي بیل بیل څملول پکار دي بلکه د دومره عمر هلک دې د دومره عمر هلکانو (یعنې د خپلو همزولو هلکانو) یا د ځان نه غټو سړو سره هم نه څملي ❁هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے ❁ کله چې د خوب نه رابیدار شئ نو مسواک کوئ ❁د شپې چې کله راپاڅئ نو تهجد ادا کوئ دا ډیر لوئي سعادت دے. د **رسولُ اللّٰه** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

"د فرضو نه پس افضل نـمونځ د شپې نـمونځ دے." (36)

| | |
|---|---|
| میں سو جاؤں یا مصطفیٰ کہتے کہتے | کھلے آنکھ صَلِّ علیٰ کہتے کہتے |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سُنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| مانگو آکر دُعا پاؤگے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو |
| ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤگے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعي [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ



36... مسلم، کتاب الصیام، باب: فَضْلِ صَوْمِ الْمُحَرَّم، صفحہ: 424، حدیث: 1163۔

www.dawateislami.net

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[37] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[38] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو



37...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

38...القول البديع، الباب الثاني، ص ۲۷۷

www.dawateislami.net

ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[39] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[40] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[41] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ



39...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص ۱۴۹
40...القول البدیع، الباب الاول، ص ۱۲۵
41...الترغیب والترھیب، کتاب الذکر والدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث: ۳۰

www.dawateislami.net

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[42] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[43] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



42... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

43... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net